# بنو: د سکيورټي فورسز کامياب عمليات
# دوه ترهګر وژل شوي

د بنو په جاني خيل سيمه کښې د سکيورټي فورسز ډير کامياب عمليات کړي دي۔ په نښته کې دوه مطلوب ترهګر وژل شوي، وسلې او مهمات ترلاسه شوي دي.







**د تفصيلاتو له مخې، امنيتي ځواکونو د ترهګرو د شتون په اړه د پټو معلوماتو په اساس ترهګر محاصره کړل۔ د اختر محمد ډلې سره تعلق لرونکي دوه ترهګر د احمد ولد سبيل خان او يحيی افريدي د تيښتې په مهال د ډزو په تبادله کې وژل شوي دي۔ وژل شويو ترهګرو په نږدې راتلونکي کې په پوځي تاسيساتو او عامه غونډو د ځانمرګي بريدونو پلان درلود۔**

په جاني خېلو او ملحقه سيمو کې د ترهګرو له ګڼو وژنو وروسته د ټي ټي پي وړتياوو ته سخت زيان رسېدلی دی، په داسې حال کې چې ترهګر يې د پټېدو ځای نه لري او دوی ورځ تر بلې د امنيتي ادارو له لوري په نښه کېږي۔